# مسیر

ورځپاڼه

نوی لید، نوی مزل

www.maseerdaily.af

دوشنبه د ۱۳۹۷ د کب ۲۷مه | د ۲۰۱۹ د مارچ ۱۸مه | دویم کال| ۳۵۲مه گڼه


## د حکومت له مخالفت سره سره؛

# په دوحه کې د امریکا او طالبانو د مذاکراتو شپږم پړاو خبرې پیلیږي



۳

### د سولې په اړه د حکومت دریځ څه دی؟

۲ مخ

### د ګډو ځواکونو ړندې بمبارۍ او د ولس پر وړاندې روان وحشت

۲ مخ

### نرسان په کوم هېواد کې ډېر عواید لري؟

۵ مخ

## خبره

۴ مخ



## الکساندر پوشکین

پوشکین د ظلم او استبداد پر وړاندې د مبارزې سرلارى شاعر و. له همدې امله یې د ټولنې په بېلابېلو طبقو کې ځانګړې محبوبیت درلود.

## د بوټو د ساتنې لوی لابراتوار به ډېر ژر ګټې اخیستنې ته وسپارل شي



د بوټو د ساتنې او قرنطین تر ټولو لوی لابراتوار به ډېر ژر ګټې اخیستنې ته وسپارل شي.

د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ وزارت ویاند اکبر رستمي پرون ازادي راډیو ته ویلي، چې د دغو لابراتوارونو له ډلې یو هم د کابل په بادام باغ سیمه  کې د بوټو د ساتنې او قرنطین لابراتوار دی.

نوموړي ویلي چې په دغه مرکز کې د نباتي ناروغیو او افتونو له ډلې، باکتریایي او ویروسي ناروغۍ پېژندل کېږي.

د کرنې وزارت ویاند ویلي، د دغه لابراتوار د کار په پیلېدو سره به، په هېواد کې د کروندګرو او سوداګرو لپاره د اسانتیا رامنځته کولو ترڅنګ، د نړیوال سوداګریز سازمان «WTO» ژمنو ته هم ښه ځواب وویل شي.

کروندګر او سوداګر د  دغه لابراتوارونو له جوړېدو هرکلی کوي او وایي چې له دې سره به تر ډېره د دوی ستونزې حل شي.

## د ولسمشریزو ټاکنو نوماندان:

# له ټاکنو وړاندې باید سوله وشي

د ولسمشریزو ټاکنو نوماندانو د سولې په برخه کې د مشورتي جرګې په لومړۍ غونډه کې تر ټاکنو مخکې پر سولې ټینګار کړی دی.

دوی وایي چې د سولې مشورتي جرګې له لارې غواړي له وسله والو طالبانو سره د سولې په روانه پروسه کې، خپل نظریات او مشورې شریکې کړي.

د دې جرګې غړي، چې ولسشمریزو ټاکنو ته هم نوماندان دي، وایي چې افغان حکومت باید لومړی له وسله والو طالبانو سره د افغان سولې په تړاو هوکړې ته ورسېږي او تر هغې وروسته ولسمشریزې ټاکنې وکړي.

د دغو نوماندانو له ډلې محمد شهاب حکیمي په دې اړه ویلي: «تر هغه چې سوله نه وي راغلې او تر هغې چې ټولشموله هوکړه نه وي شوې، د ټاکنو پر لور هر ګام د پوښتنې وړ دی او دغه څه زموږ ستونزې ورځ تربلې ډېروي».

د ولسمشریزو ټاکنو نوماندان دغه راز وایي، که تر سولې مخکې ټاکنې ترسره شي، ډېرې ستونزې به پیدا کړي.

په ورته وخت کې دوی د سولې په روانه پروسه کې د بهرنیو هېوادونو لاسوهنو ته په اشارې ویلي، چې له وسله والو طالبانو سره د سولې په روانه پروسه کې هر هېواد د خپلو ګټو لپاره کار کوي.

د ولسمشریزو ټاکنو اوو نوماندانو، چې د یادې مشورتي جرګې غړي دي ویلي، یاده مشورتي جرګه به وکولی شي چې له وسله والو طالبانو سره په روانو مذاکراتو کې اغېزناک رول ولوبوي.

## حکومت دې په عملیاتو کې د ملکیانو ژوند ته جدي پاملرنه وکړي



۵ مخ

## کمیسیون انتخابات: به دلیل کمی وقت، تقویم انتخابات ریاست جمهوری باید تمدید شود




کمیسیون مستقل انتخابات می گوید که به دلیل کمی وقت، نمی توانند تقویم فعلی انتخابات ریاست جمهوری را تطبیق کنند و باید تا فردا، تقویم انتخاباتی جدید را اعلام نمایند.

بر اساس تقویم انتخابات ریاست جمهوری؛  قرار بود که در ٦ حمل ۱۳۹۸ لیست نهایی کاندیدان ریاست جمهوری، از سوی کمیسیون انتخابات اعلام گردد؛ در ۲۹ سرطان انتخابات ریاست جمهوری، ولسی جرگه ولایت غزنی، شوراهای ولایتی و شوراهای ولسوالی برگزار شود؛ به تاریخ ۱۹ اسد  نتایج ابتدایی انتخابات ریاست جمهوری؛ و همچنان به تاریخ ۲۳ سنبله نتایج نهایی انتخابات ریاست جمهوری اعلام شود. اما مولانا محمد عبدالله عضو کمیسیون مستقل انتخابات، دیروز طی نشست خبری گفت که کمیسیون انتخابات نمی تواند تقویم انتخاباتی را تطبیق کند؛ چون کمیسیون انتخابات در حال حاضر ۱۵ روز کاری از تقویم انتخاباتی ریاست جمهوری عقب است.

وی افزود، که کمیشنران کمیسیون انتخابات، با نهادهای ذیدخل در انتخابات (احزاب سیاسی، کاندیدان ریاست جمهوری، نهادهای ناظر مرتبط با انتخابات و کشورهای کمک کننده) مصروف رای زنی‌ها در مورد تمدید تقویم انتخاباتی هستند.

موصوف خاطر نشان کرد که طبق تعدیل قانون جدید انتخابات، کمیسیون انتخابات بعد از تاریخ ۲۹ ماه حوت سال جاری، نمی تواند تغییری در تقویم انتخابات ریاست جمهوری بیاورد؛ بناءً کمیسیون انتخابات باید تا فردا تمدید تقویم انتخاباتی را اعلام کند.


SHIGAL ENGLISH ACADEMY 2019



Easy English Learning With Shigal

Admission Open

+93 (0) 789 98 9696

Dehbori, 2nd Street Behind Dehbori Park, 3rd District, Kabul.

Shigal English Academy

www.shigal.edu.af

## دریځ

### د سولې په اړه د حکومت دریځ څه دی؟

لا هم هېڅوک نه پوهېږي چې د سولې د روانو خبرو په اړه د حکومت دریځ څه دی. څو ورځې وړاندې ویل کېدل چې حکومت ناراضه دی او ناراضایتي یې ښکارېدله هم، خو ولسمشر غني بیا بیا ویل چې هر څه سم روان دي او د امریکا له خوا پیل شوې هڅې د ده طرحه ده. خبره هغه وخت بېخي بدله شوه چې کله د ولسمشر د ملي امنیت سلاکار په واشنګټن کې پر زلمي خلیلزاد سختې نیوکې وکړې. هغه خلیلزاد د طالبانو په ملاتړ، د حکومت په منزوي کولو او واک ته د خپل ځان په رسولو تورن کړ. د حمدالله محب خبرې په کابل کې چارواکو نه په بشپړ ډول رد کړې او نه یې هم تایید کړې. لا هم پوښتنه ده چې د سولې د روانو خبرو په اړه د حکومت دریځ څه دی؟

که څه هم اجرایه ریيس ویلي چې د حمدالله محب خبرې ناسمې دي او هغه یې د افغانستان پر زیان ګڼلي، خو ارګ په رسمي ډول نه د محب خبرې رد کړې او نه یې هم تایید کړې دي. یوازې د ولسمشر یوه ویاند د امریکا ستاینه کړې، خو په دې اړه څه نه وایي چې د ښاغلي محب خبرې د حکومت رسمي دریځ و، که د هغه شخصي خبرې. له همدې امله پېچلتیا لا زیاته شوې ده او خلک نه پوهېږي چې د روانو خبرو په اړه د حکومت دریځ څه دی. دا خبرې سمې روانې دي؟ که سمې روانې وي، شته اندېښنو، شکونو او پوښتنو ته ځواب څه دی؟ که دا خبرې ناسمې روانې وي، نو بیا حکومت په کومو برخو اعتراض لري، ستونزه څه ده او ځنګه یې مخه نیسي؟

ښایي ځواب دا وي چې خبرې ناسمې روانې دي او حکومت ترې ناراضه دی. که د حکومت دریځ همدا وي، نو بیا پکار ده چې لږ نور وضاحت هم ورکړي او په دې اړه ولس ته هر څه رښتیا ووایي. حمدالله محب خلیلزاد تورن کړی چې ګواکې غواړي د افغانستان وایسرای شي. دا د خندا وړ ادعا ده او په دې ټول پوهېږي چې په افغانستان کې د خلیلزاد د واکمنۍ شونتیا نشته. که خلیلزاد غواړي چې بل څوک واک ته ورسوي او یا کوم بل هدف لري، پکار ده چې حکومت په دې اړه واضح دریځ خپل کړي. یو بل ټکی چې محب ورته اشاره کړې، هغه دا دی چې د خلیلزاد لاره یې د امریکا لاره نه ده ګڼلې، بلکې هغه یې په شخصي اجنډا تورن کړی دی. دا هم خندوونکې ادعا ده. د امریکا حکومت د ملي یووالي حکومت نه دی چې ولسمشر یې خپله اجنډا لري، معاون یې بله، اجرایه ریيس یې بله او وزیر یې بله. هلته سیستم دی او شخص نه شي کولی چې دومره ستره لوبه د خپلو شخصي موخو لپاره وکاروي. بیا له خلیلزاد سره په خبرو کې یو امریکایي پلاوی هم دی چې پکې د بهرنیو چارو او دفاع وزارتونو استازي او د سي ای اې افراد هم دي، نو ځکه د شخصي هدف بحث ځنګ ته کېږي. اوس که خبرې ناسمې روانې وي او د افغانستان پر زیان وي، دا نو بیا یوازې د خلیلزاد نه، بلکې د امریکا پلان دی او حکومت باید په دې اړه خپل ولس ته معلومات ورکړي او هر څه روښانه کړي.

حکومت دې په ماشومانه او شرموونکو خبرو او دریځونو نه ځان ته زیان اړوي او نه هم سولې ته. که د سولې خبرې سمې روانې وي، باید ملاتړ یې وکړي. که ناسمې وي، باید خلکو ته وضاحت ورکړي، هر څه روښانه کړي او له خلکو ملاتړ وغواړي.

# د ګډو ځواکونو ړندې بمبارۍ او د ولس پر وړاندې روان وحشت

لیکنه: ضیاء الاسلام شېراني

له تېرو څو میاشتو راهیسې د افغان او بهرنیو ځواکونو په هوایي بریدونو او شپنیو پوځي عملیاتو کې په بې‌ساري ډول زیاتوالی راغلی دی. که څه هم ظاهراً دغه عملیات د وسله والو مخالفینو د ځپلو په نوم ترسره کېږي، خو هر ځل پکې د ملکي وګړو کورونه، جوماتونه او مدرسې په نښه کېږي، چې له امله یې د ملکي وګړو د مرګ ژوبلې پېښې هم تر بل هر وخت زیاتې شوې دي.

یوازې له تېرو دریو اونیو راهیسې په وردګو، ننګرهار، غزني او پکتیا ولایتونو کې د افغان او بهرنیو ځواکونو په هوایي بریدونو او شپنیو پوځي عملیاتو کې د ښځو او ماشومانو په ګډون، لسګونو ملکي وګړو ته مرګ‌ژوبله اوښتې ده.

په وروستۍ پېښه کې د پکتیا د زرمت ولسوالۍ په سهاکو سیمه کې، د افغان ځواکونو د عملیاتو پر مهال پنځه تنه ملکي وګړي وژلي دي، په وژل شوو کې د یوې کورنۍ پلار، درې زامن او یو وراره شامل دي. له دې وړاندې د غزني په اندړو ولسوالۍ کې د ملکي وګړو یو موټر بمبار شو او پکې ناست ۱۳ عام وګړي ووژل شول. همدارنګه د غزني له پېښې څو ورځې وړاندې، د ګډو ځواکونو له لوري په څو پر له پسې شپنیو عملیاتو او هوایي بمباریو کې د وردګو په جلګه، سیداباد، چک او جغتو ولسوالیو کې د ښځو او ماشومانو په ګډون، لسګونو ملکي کسانو ته مرګ ژوبله واوښته، چې کورونه او جوماتونه یې په بمونو وران کړل.

د ګډو ځواکونو په شپنیو عملیاتو کې د جګړې د ټولو نړیوالو اصولو او قوانینو خلاف، په ډېر وحشت سره عام وګړي په نښه کېږي، کورونه یې په بمونو الوځول کېږي او یا هم بمبارېږي. د وردګو د سیداباد ولسوالۍ په پېښه کې د ګډو ځواکونو له لوري یو ځوان زوی د پلار په مخ کې په ډزو وژل شوی، دغه راز په جلګه کې هم د عملیاتو پر مهال ماشومان او ښځې سړه هوا کې له کورونو را ایستل شوي او پر وړاندې یې د کورنۍ غړي وژل شوي دي.

په وروستیو څو میاشتو کې د ګډو ځواکونو د شپنیو عملیاتو او هوایي بمباریو له زیاتوالي سره، په کلیو کې یو ډول وحشت خپور دی او له خلکو سره دومره وېره پیدا شوې، چې زیاترو یې خپل اولادونه ښارونو ته رالېږلي دي. پخوا به مسافر زده کوونکي او محصلین په ژمنیو رخصتیو کلیو ته تلل؛ خو سږني ژمي کې ډېری زده‌کوونکي او محصلین په ژمنیو رخصتیو کلیو ته نه دي تللي او په هر کور کې یوازې یو ـ یو سپین‌ږیری د کور سرپرستۍ ته پاتې دی.

د ګډو ځواکونو له لوري په روانه جګړه کې د وسله‌والو مخالفینو په نوم د جګړې د ټولو اصولو خلاف، ړندې بمبارۍ او قصداً د وحشت خپرول، هغه څه دي چې د ملکي وګړو د مرګ ژوبلې زیاتوالي ته یې لاره هواره کړې ده او د خلکو له لوري په وار وار له اعتراضونو سره سره، حکومت پر دغه وحشت چوپتیا غوره کړې او ان ډېر کله دا ډول ملکي وژنې له ترهګرۍ سره د مبارزې په نوم توجیه کوي هم.

د ګډو ځواکونو له لوري د ملکي وګړو مرګ‌ژوبله داسې مهال ورځ تر بلې مخ پر زیاتېدو ده، چې له تېرو څو میاشتو راهیسې په افغانستان کې د روانې جګړې د پای ته رسولو په موخه، د امریکا او طالبانو ترمنځ خبرې اترې روانې دي. دا چې په دغو خبرو کې افغان حکومت ته ځای نه دی ورکړل شوی او طالبان نه غواړي چې له افغان حکومت سره خبرې وکړي، تر ډېره انګېرنې دا دي چې افغان حکومت پر طالبانو د فشار راوړلو په موخه هوایي بمبارۍ او شپني عملیات زیات کړي دي؛ خو د حکومت دا چاره د ملکي وګړو په زیان تمامه شوې ده.

د افغان سولې په تړاو د امریکا ـ طالبانو د مخامخ خبرو په تړاو د حکومتي چارواکو له وروستیو څرګندونو داسې ښکاري، چې افغان حکومت په لوی لاس د سولې مخالفت کوي او له تېرو څو میاشتو راهیسې د خپلو وسله‌والو مخالفینو په نوم د ملکي وګړو په نښه کول او د روان تاوتریخوالي رامنځته کولو، تر شا هم د سولې خلاف د جګړې د دوام دسیسه پر مخ وړي.

له بله اړخه د حکومتي ځواکونو له لوري دا ډول وحشت او د بې‌ګناه وګړو په نښه کول، د حکومت او خلکو ترمنځ رامنځته شوې واټن لا زیاتوي، حکومت د ولس له نظره غورځوي او په لوی لاس ولسونه د حکومت پر وړاندې درېدو ته هڅوي. دغه‌راز د جګړې پر میدان به یې هم اغېز دا وي، چې ښایي ځینې دردېدلي افغانان د مخالفینو لیکو ته ورشي او بېرته د افغان حکومت پر ضد وسله واخلي، کوم څه چې په تېرو کلونو کې هم د حکومت د وسله‌والو مخالفینو د لیکو تقویه کولو یو مهم لامل بلل شوی دی.

## خلیلزاد: امریکا او ناټو له افغانستانه د وتلو په اړه ګډه پرېکړه کوي



د افغان سولې لپاره د امریکا متحده ایالاتو ځانګړي استازي زلمي خلیلزاد ویلي، چې امریکایي او ناټو ځواکونه به له افغانستان څخه د وتلو په اړه په همغږۍ ګډ تصمیم ونیسي.

خلیلزاد ویلي: «له ناټو او زموږ نورو شریکانو سره همکاري له لومړیو ورځو زموږ له لومړیتوبونو څخه وه، موږ یو ځای راغلي یو او «افغانستان» کې د پاتې کېدو په اړه به هم په ګډه همغږي ولرو، که چېرې مو (افغانستان) پرېښود، ټول به یې په ګډه پرېږدو او ټول به په ګډه په افغانستان کې د سولې او امنیت د ټینګښت لپاره هڅې کوو.»

خلیلزاد له افغانستان څخه د بهرنیو ځواکونو د وتلو په اړه دا څرګندونې په داسې وخت کې کوي، چې د امریکا ولسمشر ډونالډ ټرمپ وړمه ورځ له لوړپوړو امریکایي چارواکو سره د افغانستان په اړه پټه غونډه کړې، چې تر اوسه یې جزیات نه دي روښانه شوي.

په ورته وخت کې د افغانستان جمهوري ریاست د ښاغلي خلیلزاد د دې تازه څرګندونو په اړه ویلي، چې له افغانستان څخه د بهرنیو ځواکونو د وتلو موضوع څه «نوې خبر نه ده» او زیاتوي، چې امریکا له ناټو سره په ګډه په افغانستان کې کار کوي.

د ولسمشر غني د ویاند مرستیال شاه حسین مرتضوي پرون امریکا غږ ته ویلي: «دوی «امریکایان» د غوڅ ملاتړ په چوکاټ کې افغانستان ته راغلي او کار کوي، موږ ټول یو له بل سره امنیتي هوکړې لرو او ټول کارونه د شوو هوکړو له مخې کېږي.»

له افغانستان څخه د بهرنیو ځواکونو د وتلو په اړه دغه څرګندونې په داسې وخت کې کېږي، چې تېره اونۍ د ناټو سرمنشي ینس سټولټنبرګ ویلي وو، چې په افغانستان کې د دوی راتلونکی ماموریت به له طالبانو سره د سولې خبرو په پایلو پورې تړلی وي.

اوسمهال په افغانستان کې ۱۶ زره بهرني ځواکونه شته، چې ۱۴ زره یې امریکایي او پاته دوه زره یې د ناټو د نورو غړو هېوادونو سرتېري دي، چې د غوڅ ملاتړ په چوکاټ کې د افغان ځواکونو د روزنې، سلا مشورو او نورو برخو کې فعالیت کوي.

## داوودزی: د سولې خبرې باید له افغان حکومت سره په همغږۍ ترسره شي

د سولې عالي شورا د دارالانشا ریيس او د ولسمشر ځانګړي استازي عمر داوودزي د سولې په تړاو د نورو هېوادونو هڅې ستایلي، خو زیاته کړې یې ده چې په دې اړه خبرې باید له افغان حکومت سره په همغږۍ وشي.

د دې شورا ویاند سید احسان طاهري ویلي، چې داوودزي ایران ته د خپل سفر په دویمه ورځ، په تهران کې د دغه هېواد د بهرنیو چارو وزارت د ستراتېژیکو څېړنو د مرکز له خوا په جوړه شوې ناسته کې ګډون کړی دی او یادې څرګندونې یې کړې دي.

هغه زیاته کړې چې په دې ناسته کې د ځینو هېوادونو سفیرانو، څېړونکو او د دواړو هېوادونو استازو هم ګډون کړی و.

د نوموړي په خبره، عمر داوودزي دې غونډې ته د افغانستان د سولې پروسې، روانو هڅو او په دې برخه کې د سیمې د هېوادونو د نوښتونو په اړه تفصیلي وینا کړې ده.

طاهري ویلي چې په دې ناسته کې دا چې افغانستان د سولې په پروسه کې له ګاونډیانو، سیمه ییزو هېوادونو او نړۍ څخه څه غواړي، په تفصیل سره بحث شوی دی.




د هغه په خبره، عمر داوودزي په خپله وینا کې د افغان سولې په تړاو د سیمې د هېوادونو نوښتونه ګټور بللي، خو غوښتنه یې کړې چې دا باید د افغانستان له حکومت او سولې عالي شورا سره په همغږۍ ترسره او پر مخ یوړل شي.

د داوودزي په خبره، دا ځکه چې د سولې مشري، مالکیت او محوریت د افغان حکومت او خلکو په لاس کې دی. نوموړي ویلي، ټول هېوادونه باید خپلې ګټې، سوله او ثبات د افغانستان په سوله کې ولټوي او پر دې پوه شي چې د افغانستان جګړه د هېچا په ګټه نه ده.

طاهري دغه راز زیاته کړې، چې داوودزي دې ناستې ته د سولې د مشورتي جرګې په اړه هم بشپړ معلومات ورکړي دي.

## د نیوزیلنډ لومړۍ وزیره: پر جوماتونو برید کوونکي له برید مخکې راته پیغام لېږلی و

د نیوزیلنډ لومړۍ وزیرې ویلي، مشکوک برید کوونکي پر دوو جوماتونو تر بریدونو څو دقیقې مخکې، له دېرشو زیاتو سیاستوالو او چارواکو ته په استولو پیغامونو کې دې ته هم یو پیغام استولی و، خو د کېدونکي برید په اړه یې ډېر جزیات نه وو ورکړي.

په هغه سند کې چې د نیوزیلنډ د کرایسټ چرچ د ښار پر دوو جوماتونو د بریدونو د قربانیانو په اړه برابر شوی، د وژل شویو کسانو عمرونه پکې د ۳ او ۷۷ کلونو ترمنځ ښودل شوي دي.

که څه هم تر اوسه د نیوزیلنډ چارواکو د تېرې جمعې د ورځې د ټولو قربانیانو بشپړ جزیات نه دي خپاره کړي، خو دغه لېست د قربانیانو د کورنیو له خوا تېره ورځ خپور شوی دی.

د دغه لېست له مخې په دواړو جوماتونو کې په بریدونو کې د ماشومانو په ګډون، ۴۴ سړي او څلور ښځې وژل شوې دي.

د نیوزیلنډ لومړۍ وزیرې جاسینډا اردېرن ویلي، چې دغه لېست رسمي نه دی او رسمي هغه به د ټولو قربانیانو د هویت له بشپړولو وروسته خپور شي.

د پاکستان د بهرنیو چارو وزارت هم په دغو بریدونو کې د نهو پاکستاني اتباعو وژنه تایید کړې ده.

په وژل شویو کې دغه راز د بنګله دېش، ترکیې، سعودي عربستان، اردن، اندونیزیا، مالیزیا، مصر او امریکا متحده ایالتونو اتباع هم شامل دي او دا په نیوزیلنډ کې د ډله ییزې وژنې تر ټولو لویه پېښه ګڼل شوې ده.

دا په داسې حال کې ده چې هغه ۲۸ کلن استرالیایي وګړی، چې وروسته نیول شوی او پر قتلونو تورن شوی، لومړی د کرایسټ چرچ ښار د النور په جومات کې پر لمونځ کوونکو ډزې کړې، لسګونه کسان یې وژلي او وروسته د ښار بل جومات ته تللی او هلته یې هم په ډزو ډېر خلک وژلي دي.

مشکوک برید کوونکي د انټرنټ له لارې د حملې یوه ویډیو او پیغام خپاره کړي، چې په هغه کې د مسلمانانو ضد څرګندونې شاملې دي.

د نیوزیلنډ لومړۍ وزیرې جاسینډا اردېرن دغه راز خبریالانو ته ویلي، چې د مشکوک حمله کوونکي له خوا له حملې مخکې دې ته هم د ایمېل له لارې پیغام استول شوی و، چې دې سمدستي په دوو دقیقو کې هغه له پولیسو سره شریک کړی دی. هغې ویلي چې په پیغام کې د حملې ځای او نور جزیات نه وو شامل.

دغه راز برید کوونکي له حملې نهه دقیقې مخکې له دېرشو زیاتو سیاستوالو او چارواکو ته هم پیغامونه استولي وو.

## د حکومت له مخالفت سره سره؛

# په دوحه کې د امریکا او طالبانو د مذاکراتو شپږم پړاو خبرې پیلېږي



سره له دې چې دننه په حکومت کې افغان چارواکي د امریکا او طالبانو ترمنځ د مخامخ پټو خبرو مخالفت کوي، تازه معلومات ښيي چې د خبرو شپږم پړاو به هم په قطر کې ترسره شي. وسله والو طالبانو ته نږدې سرچینې وايي، چې د امریکا او طالبانو ترمنځ د مخامخ خبرو شپږم پړاو به د راتلونکې میلادي میاشتې (اپرېل) په اوږدو کې ترسره شي.

د وسله والو طالبانو او امریکا ترمنځ په تېرو شپاړس ورځنیو مذاکراتو کې د پرمختګونو خبره کېږي. وسله وال طالبان او امریکا دواړه وايي چې په دغو خبرو کې یې پرمختګونه کړي دي او مذاکرات یې ګټور وو. امریکا وايي، په دغو مذاکراتو کې پر څلورو مواردو، د یوې مسودې هوکړې ته رسېدلي دي، خو طالبان بیا وايي چې یوازې په دوو مواردو هوکړې رسېدلي او دغه موارد په مسوده کې ځای پر ځای شوي دي.

افغان حکومت بیا په ځلونو د امریکا او طالبانو ترمنځ مخامخ او د پردو تر شا خبرې غندلې دي او ټینګار کوي چې باید په دغو مذاکراتو کې افغان حکومت هم ګډون وکړي. د افغان چارواکو په خبره، د پردو تر شا روانې خبرې د هېڅا په ګټه نه دي او رښتینې سوله یوازې د افغانانو ترمنځ د مخامخ مذاکراتو پر مټ راتللی شي. امریکا بیا دا ژمنې کوي، چې دوی د مخامخ خبرو لپاره زمینه برابروي او هڅه کوي، چې طالبان دې ته تیار کړي څو له افغان حکومت سره مخامخ خبرې پیل کړي. وسله وال طالبان بیا وايي، چې له افغان حکومت سره نه، بلکې له امریکا سره د ستونزې حل غواړي.

تازه وسله والو طالبانو ته نږدې سرچینو ویلي، چې د خبرو شپږم پړاو به په اپرېل کې پیل شي او له امریکا سره به پر مهمو مسایلو خبرې وشي. د دغو مذاکراتو دقیقه نېټه نه ده معلومه، خو سرچینې وايي چې د اپرېل په لومړیو کې به پیلېږي. بل پلو ټاکل شوې چې افغان سیاسي څېرې، مدني فعالان او ځینې خبریالان هم په راتلونکې میاشت کې دوحې ته لاړ شي او د سولې په اړه له طالب استازو سره لیده کاته ولري.

طالب سرچینو هم دا تایید کړې ده، چې په دغه پړاو کې ښايي پر بین الافغاني مذاکراتو خبرې وشي. افغان سیاسي شنونکي او پخواني طالب چارواکي هم دې ته هیله مندي ښيي، چې په راتلونکو مذاکراتو کې به پر افغاني مذاکراتو خبرې کېږي او د دواړو لورو ترمنځ به د مخامخ مذاکراتو پر پیل بحثونه وشي. پخواني طالب چارواکی ملا عبدالسلام ضعیف وايي، ډېره هیله مندي شته چې د بین الافغاني مذاکراتو پر پیل هم په همدغه پړاو کې یوه هوکړه رامنځ ته شي.

د طالبانو او امریکایي پلاوي ترمنځ د پنځم پړاو ۱۶ ورځنۍ خبرې اترې، چې شاوخوا یوه اونۍ وړاندې تر سره شوې، امریکا او طالبان له افغانستان څخه د بهرنیو ځواکونو د وتلو او د نورو هېوادونو پر ضد د افغانستان د خاورې د نه کارولو په اړه د مسودې پر نهایي کېدو هوکړه کړې ده.

په ورته وخت کې د افغان سولې لپاره د امریکا ځانګړي استازي زلمي خلیلزاد تازه د ناټو له عمومي منشي سره په لیدنه کې د بهرنیو ځواکونو د وتلو خبره هم کړې ده. ده ویلي، ټول په افغانستان کې سوله غواړي او همدا چې دغه هېواد ته سوله راشي، نو امریکا به د ناټو له نورو غړو هېوادونو سره په ګډه له افغانستان څخه وځي. هغه ویلي: ((موږ د ناټو په مرسته په ګډه په افغانستان کې د ترهګرۍ ضد جګړه پیل کړه، ماموریت مو په ګډه مخ ته ووړ، اوس چې د وتلو وخت راځي، نو له ناټو ځواکونو سره به امریکایي ځواکونه په ګډه له افغانستانه وځي)).

بل پلو راتلونکو ولسمشریزو ټاکنو ته ځینو نوماندان وايي، چې تر ټاکنو مخکې باید د افغانستان د سولې مسئله روښانه شي. د دوی په خبره، که داسې ونه شي، نو ښايي راتلونکې ټاکنې ګډې وډې شي او په دې توګه یو ځل بیا د ولس باور ته زیان ورسېږي.





**په کندهار ولایت کې د بلک هاک چورلکو له ښوونیزې دورې د افغان هوایي ځواک یوه ډله پیلوټان او عمله فارغ شول.**
**په کندهار ولایت کې د هوایي ځواک قوماندان نوي پیلوټان له دې امله وستایل چې شپه او ورځ د پروازونو لپاره د مهارتونو ترلاسه کولو ته ژمن دي. دغه کار د هوایي ځواک د بریا ضمانت کوي.**


**یک تیم پیلوت ها و عمله قوای هوایی افغان از دوره آموزشی هلیکوپتر های بلک هاک در ولایت کندهار فارغ شدند.**
**قوماندان قوای هوایی در کندهار بخاطری از پیلوت های جدید ستایش کرد که شب و روز متعهد به فراگیری مهارت ها برای پرواز اند. این امر باعث تضمین موفقیت قوای هوایی می باشد.**

## د کتـــاب خبـرې

# د لوی فکر جادو

◎ لیکوال: دوکتور ډېوېډ شوارتز
◎ ژباړن: میـراحمد یـاد

### اووم څپرکی
### خپل چاپېریال اداره کړئ
### ځان بري ته جوړ ول




د دې ځپوونکو قوتونو د پېژندلو لپاره باید بېرته ماشومتوب ته ستانه شو. موږ ټولو ماشومتوب کې لويې موخې درلودې. په هغه ماشومتوب کې مو د برياوو، رهبر کېدو، لوړ مقام ته رسېدو، لویو کارونو، شتمنېدو، مشهورېدو او بلاخره د غوره، ښه او لوړ شخصيت کېدو خوبونه او پلانونه لرل، خو په يوه معصوم غفلت کې مو دې موخو ته د رسېدو لپاره خپله لاره وهله.
خو بيا څه وشول؟ موږ چې تر څو د دې فکر د عملي کولو عمر ته را رسېدو، د منفي اغېزو يوه ټولګه راباندې راغله.
موږ له ټولو واورېدل: (خيال پلونه مه وهه)، (د ماشومتوب فکرونه هسې کم عقلتوب وي)، (د بري لپاره پيسې پکار دي، بخت پکار دی، تکړه ملګري پکار دي)، يا به يې ويل چې (دا عمر د دې خبرو نه دی، پوخ پوخ مه کېږه.)
کومو خلکو ته چې ويل کېږي چې هسې خواري مه کوه، کوم ځای ته پکې نشې رسېدای، د داسې تلقين پر وړاندې خلک په دريو ډلو وېشل کېږي:
لومړۍ ډله. هغه دي چې په بشپړ ډول تسليمېږي. زياتره خلک دستې قانع کېږي چې دوی د دې کارونو وړتيا نه لري او بريالي خلک يوازې هغوی دي چې بخت يې بيدار وي. تاسې دا خلک ډېر زر پېژندلی شئ، دوی د خپل حالت د توجيې او ځان راضي ښودلو لپاره اوږدې اوږدې کيسې جوړوي.
يو سړی و، تقريباً د دوه دېرشو کالو به و، ده ځان په يوه خوندي خو ډېر ټيټ حالت قانع کړی و. دا سړی راسره يو څو ورځې وړاندې مخ شو او له خپل کاره په رضايت راسره يو ساعت وغږېد. کار يې په خوله ډېر ښه و، خو په زړه کې ښه پوهېده چې هسې ځان تېرباسي. په زړه کې يې داسې يو کار غوښت، چې دی سيالۍ ته اړباسي او پرمختګ ورکړي، خو (ځپوونکي اغېزې) يې منلې وې چې د لويو کارونو وړتيا نه لري.
دا د هغو افراطي کار بدلونکو خلکو دويمه ډله ده چې فرصتونو پسې ګرځي. اوږده موده په يوه کونج کې کېناستل، د هغو خلکو د بې ځايه سرګردانيو لپاره برزخ دی، چې په دې تمه ناست وي، چې يوه ورځ به ورته ناڅاپه زرين فرصت را پيدا شي.
دويمه ډله . دا هغه خلک دي چې تقريباً تسليم شوي وي. دا ډله تر لومړۍ ډلې وړه ده. دا هغه خلک دي چې د لويو فرصتونو په تمه يې عمر پوخ شوی وي. دوی کار کوي، پلانونه جوړوي، خو يوه لسيزه يا ډېر وخت وروسته نهيلي کېږي او لوړو بستونو ته د رسېدو لپاره سيالي ورته ګرانه ښکاري. دا ډله بيا داسې ګڼي چې راتلونکې برياوې په هېڅ ډول هلو ځلو نه ارزي.
د دوی دليل دا وي چې: (زموږ ژوند شکر تر ډېرو ښه دی، نو هسې ځان ولې ستړی کوو؟)
دا ډله عملاً له څو وېرو سره مخ وي:

- له ماتې وېره
- د ټولنيزو مخالفتونو وېره
- د ناخونديتوب احساس او د هر څه بايللو وېره

دا خلک له ژونده راضي نه وي، ځکه په زړه کې ښه پوهېږي چې تسليم شوي دي. په دې ډله کې داسې ډېر تکړه او ځيرک خلک راځي، چې تقريباً کښېدل يې منلي دي، ځکه دوی له پاڅېدو او منډې وېرېږي.
درېيمه ډله. دا هغه خلک دي چې نه تسليمېږي. دا ډله تقريباً د ټولنې دوه يا درې سلنه خلک دي. دوی نه پرېږدي چې بدبيني يې کارونه ورخراب کړي. دوی ځپوونکو قوتونو ته نه تسليمېږي او په کښېدو باور نه لري. دا ډله په بري ژوندۍ ده او له همدې ساه اخلي. د دې ډلې خلک تر ټولو ډېره خوشاله دي، ځکه تر ټولو ډېر کار کوي. د دې ډلې کسان هر کال نږدې پنځلس زره ډالره عايد لري. دا خلک په خپلو کاري ساحو ښه پلورونکي، لوړپوړي مديران او د لومړۍ درجې رهبران دي. دې خلکو ته ژوند خوندور دی، ارزښت ورته لري او د يوه فرصت په سترګه ورته ګوري. دا خلک هرې نوې ورځې او له نويو خلکو سره مخ کېدو ته سترګې په لاره وي.
که رښتيا ووايو، موږ ټول غواړو چې د همدې درېيمې برخې غړي شو، هر کال نوي پرمختګونه وکړو، کار وکړو او پايلې ترلاسه کړو.
خو په دې ډله کې د راتګ او اوسېدو لپاره بايد د خپل چاپېريال له ځپوونکو قوتونو سره مبارزه وکړو. لاندې مثال ښه په ځير ولولئ او وګورئ چې د لومړۍ او دويمې ډلې خلک څنګه تاسې سهواً شاته ټېل وهي.
داسې وګڼئ چې خپلو څو عادي ملګرو ته په پوره اخلاص وايئ چې: (زه به يوه ورځ د دې شرکت معاون يم.)
څه به وشي؟ ملګري به مو وايي چې ګڼي ټوکې ورسره کوئ، خو که يې جدي وګڼي، نو ښايي درته ووايي چې: (ته خو لا په هېڅ هم نه پوهېږې، ډېر شيان بايد زده کړې.)
شاته ښايي درپسې دا هم ووايي چې (دی ليونی شوی دی.)
اوس که تاسې همدا خبره په پوره اخلاص د خپل شرکت عمومي رئيس ته وکړئ، نو څه به درته ووايي؟ يوه خبره خو معلومه ده چې درپورې خاندي نه... در وبه ګوري او ځان سره به ووايي: (دا سړی رښتيا داسې ګڼي؟)
بيا هم درته وايم چې درپورې خاندي نه!
ځکه لوی خلک لويو فکرونو پورې نه خاندي.

دوام لري...

# الکساندر پوشکین

شفیق امیرزی



د ليکوال الکساندر پوشکين له نامه سره ښايي ډېر خلک اشنا وي، خو د دغه روسي شاعر د ژوند ډېر اړخونه حيرانوونکي دي. هغه د روسي ادبياتو پلار او بنسټګر بلل کېږي. په روسي ادبياتو کې دومره ارزښت لري، لکه په انګليسي کې چې شکسپير، په پښتو کې خوشال خان او... ارزښت لري.
الکساندر پوشکين کم، خو ډېر اغېزناک او له لاس ته راوړنو ډک عمر تېر کړی دی. هغه په ځوانۍ کې له نړۍ تللی دی، خو بشري فرهنګ ته يې دومره پنځونې او خلاقانه اثار ورکړي، چې د ډېر عمر لرونکو ليکوالانو او شاعرانو نه دي ورکړي. پوشکين د ازادۍ، انساني ژوند، مينې، درناوي او انساني يووالي لپاره مبارزه او پنځونې کړې دي.
روسي ليکوالان په دې باور دي، چې تر دې دمه په روسي ژبه کې د پوشکين د اثارو په څېر اثار چا نه دي پنځولي. هغه لومړنی روسي شاعر دی، چې منظوم داستان يې ليکلی دی او اوس هم روسي وګړي د دغو منظومو داستانونو له لوستلو خوند اخلي. په منثور ژانر کې د پوشکين هر اثر د هغه مهال شهکار ګڼل کېده. د هغه ليکونه لا هم د روسي ژبې تر ټولو ښکلې او خوندورې ادبي نمونې دي.
د دې ترڅنګ د هغه منظومې او منثورې پنځونې د دې سبب شوې، چې لسګونه رسامان، مجسمه جوړوونکي، فلم جوړوونکي او ان معماران پر نوښتونو فکر وکړي. په روسي ادب کې د پوشکين پنځونې د دې سبب شوې چې لسګونه کسان پر روسي ادبياتو څېړنې وکړي او د خلکو پام دې ته واوړي، چې روسي ژبه په بشري فرهنګ کې د سترو فرهنګي پنځونو جوګه ده.
ماکسيم ګورکي، د روسي ژبې معاصر ليکوال د الکساندر پوشکين په اړه وايي: «پوشکين د روسي ملت ستر شاعر دی. هغه د شکل او موضوع له اړخه جذاب او زړه وړونکي داستانونه پنځولي دي. د لومړني رياليستي داستان (يوګني آنه ګين) ليکوال دی. تر ټولو ښه تاريخي ډرام بوريس ګودونوف يې پنځولی دی. تر دې دمه چا د هغه نيمګړتيا نه ده ايستلې، نه چا د ده په څېر اثار پنځولي دي. نو ځکه خو وايي چې هغه د روسي ادبياتو بنسټګر دی.»
الکساندر سرګوئيچ پوشکين شاعر، ننداره ليکوال او د روسيې د معاصرو ادبياتو بنسټګر، د ۱۷۹۹ز کال د جون په شپږمه په يوه پخوانۍ او تاريخي کورنۍ کې په مسکو کې زېږېدلی دی. کورنۍ يې د شپږو سوو کلونو لپاره په بېلابېلو حکومتونو کې د اشرافو او دربار ته نږدې کسانو په توګه پاتې شوې وه. د ده کورنۍ له الکساندر نيفسکي، ايوان مخوف، بوريس ګودونوف او نورو واکمنانو سره ښې اړيکې لرلې. د هغه نصب د مور له طرفه هم شاهي او اشرافي کورنيو ته رسېږي.
د پوشکين د ژوند پر مهال د هغه کورنۍ هغه پخوانی ځای او منزلت نه درلود، خو بيا يې هم له حکومت سره څه ناڅه اړيکې لرلې.
پوشکين د ډېرو بهرنيو، ښځينه او نارينه ښوونکو تر روزنې لاندې و. د دوی تر نظر لاندې يې زده کړې کولې، خو د زده کړو تر ټولو ښه ځای ورته د پلار غني کتابتون و. ده له همدغه کتابتون څخه استفاده کوله او خپله مطالعه يې کوله. په دغه کتابتون کې د اوولسمې او اتلسمې پېړۍ د مشهورو ليکوالانو او شاعرانو اثار راټول شوي وو. په ۱۸۱۱ کال کې پوشکين ۱۲ کلن وو او د هغو ۳۰ کسانو له ډلې و، چې سلطنتي ښوونځي کې يې زده کړې پيل کړې.
په همدې وخت کې پوشکين شعر او شاعرۍ ته مخه کړه. لا د کم عمر ځوان و چې شعرونه يې ليکل او د شعر ټولګې يې لرلې. د شعر لومړنۍ ټولګه يې د تسارسکويه سلو په نامه ده. دا يې په ۱۸۱۴ کال کې چاپ کړه. دويمه ټولګه يې، سورګل نومېږي، دا يې په ۱۸۱۵ کال کې چاپ کړه، بله يې ازادي نومېږي چې په ۱۸۱۷ کال کې يې چاپ کړې ده. هغه په کم عمر کې په پرله پسې توګه درې مهمې او بې جوړې شعري ټولګې خپرې کړې. دغه ټولګې يې په خپل وخت کې بې جوړې وې او انقلابي روحيه يې لرله. يادې درې شعري ټولګې يې په همدې سلطنتي ښوونځي کې د زده کړو پر مهال ليکلې دي.
پوشکين په ۱۸۲۰ کال کې د ازادۍ قيصده وايي. همدا قيصده د دې سبب کېږي چې حکومتي چارواکي غوسه کړي او وورسته دی د حکومت د مامور په توګه قفقاز ته تبعيد کوي. پوشکين نه تسليمېږي، خپل حکومتي موقف ساتي او د قفقاز په بېلابېلو ښارونو کې ګرځي. هغه په کې شنف، اودسا او کريميه جزيره کې خپل وخت تېروي. په دې سيمه کې له ځينو انقلابي کسانو، لکه ايوسکي او پتسل سره معرفي کېږي. په اروپا کې د ازادۍ غورځنګونه او د روسي نظاميانو پر ضد د ځينو حرکتونو پيلېدل د دې سبب شول، چې پوشکين له سياسي جريانونو سره يو ځای شي. په قفقاز کې د پوشکين پاتې کېدل د دې سبب شول، چې د هغه په فکر کې رومانتېزم پراخ شي.
په ۱۸۲۳ کال کې د پوشکين ملګري هڅه کوي، چې هغه له تبعيد څخه خلاص کړي، نو ځکه اودسا ته لېږدول کېږي. دی دلته هم خپله حکومتي دنده لري. په ادسا کې د باغچې فواره او د يوګني اونه ګون لومړی فصل بشپړوي. ورسره سم د کوليانو منظوم داستان ليکي، چې د روسي ادبياتو تر ټولو خوندور او زړه راښکونکی رومانتيکي داستان ګڼل کېږي.
په اودسا کې د پوشکين دومره موده نه وه وتلې، چې د اودسا ښار له لوی حکومتي رييس سره يې اړيکې خرابې شوې. دوی پوشکين اړ ايست چې حکومتي قوانينو ته په پام، خپلو رسمياتو ته درناوی وکړي. خو دې مسئلې پوشکين خفه کړ او دې ته اړ شو چې له خپلې دندې لاس په سر شي. په همدې وضعيت کې د ۱۸۲۴ کال په جولای کې له پستي ادارې يو ليک ورته راځي. په ليک کې ليکل شوي، چې ده کليسا او دين ته سپکاوی کړی دی، نو له همدې امله د څه مودې لپاره ميخايلو سکويه ته تبعيدېږي.
همدلته يې د خپلو ځينو اثارو لکه کوليان بله برخه، د بورس ګودنوف اثر بله برخه او د يوګيني انه ګين د رومان دويم فصل بشپړ کړل.
په ۱۸۲۵ کال کې چې د دکابريستانو جنبشونه پيل شول، پوشکين لا تر دې دمه په ميخايلو سکويه کې و. هغه د دغو ډلو په اړه معلومات نه لرل او نه هم د کوم چا له لوري دغه پيل شوي غورځنګ ته بلل شوی و، خو بيا هم پوه شو، چې د ده پښه په دغه دام کې نښتې ده. پوشکين د ۱۸۲۶ کال په پسرلي کې د روسيې تزاري حکومت ته ليک واستاوه او له دوی يې وغوښتل، چې تبعيد يې ختم کړي. په همدغه کال کې څه موده وروسته چې د کابريستانو غورځنګ وځپل شو، حکومت پوشکين ته ځواب واستاوه او هغه يې مسکو ته راوباله. په همدغه وخت کې په مسکو کې د نوي واکمن لومړي نيکولای د تاج اېښودنې مراسم ترسره کېدل. حکومت وغوښتل چې پوشکين په دغه مراسمو کې د ګډون لپاره ځان تيار کړي او له لومړي نيکولای سره ووينې. پوشکين د لومړي نيکولای له اصلاحاتو ملاتړ وکړ او له هغه يې وغوښتل چې د پترکبير په څېر سياست او پلانونه غوره کړي. پادشا د ده د شعرونو د پالنې ژمنه هم ورسره وکړه.
په ۱۸۳۰ کال کې پوشکين په بولدينو کې ژوند کاوه. همدلته يې شاوخوا پنځوس هنري اثرونه وپنځول. د روسي چاپېريال، معنوي، اخلاقي، سياسي او هنري ژوند يې انځور کړ.
په ۱۸۳۰ کال کې پوشکين ناتاليا ګونچاروواتا ته د واده وړانديز کوي. په پايله کې يو کال وروسته دوی دواړه واده کوي او پوشکين له هغې سره يو ځای پترزبورګ ته ځي. په پترزبورګ کې د روسيې تاريخ او فرهنګ مطالعه کوي او په اړه يې ليکنې کوي. په ۱۸۳۳ کال کې بېرته بولدينو ته راګرځي او خپلو ليکنو او پنځونو ته ادامه ورکوي.
پوشکين د خپل لنډ عمر وروستي کلونه او مياشتې په بولدينو کې و. دلته يې مهم غنايي اثار وپنځول. د بولدينو منی درېيمه برخه، طلايي چرګ او روم ته سفر يې هغه مهم اثار دي، چې دلته يې پنځولي دي.
پوشکين سره له دې چې د ټولنې په بېلابېلو طبقو کې محبوبيت درلود، خو په روسي حکومت کې يې مخالفان هم درلودل. دوی د پوشکين موجوديت د خپلو ګټو په مقابل کې يو دېوال باله، ځکه غه د استداد او ظلم مخالف و، نو په هره توګه چې وای هڅه يې کوله چې د هغه شخصيت په ټولنه کې زيانمن کړي او زيان ورته ورسوي.
همدغو کسانو يو وخت د پوشکين ښايسته مېرمن له بل فرانسوي کس سره په اړيکو لرلو تورنه کړه. دوی داسې ګنګوسې خپرې کړې، چې ګواکې ناتاليا له يوه فرانسوي کډوال سره اړيکه لري او دواړو د مينې تار جوړ کړی دی. پوشکين په همدې اړه ډېر بې لاسليکه ليکونه هم تر لاسه کول او له ده به غوښتل کېدل، چې له خپل شرافت او غيرت څخه دفاع وکړي. کله چې پوشکين ټپي پر تخت پروت و، نو ډېر محدود ملګري او چارواکي يې ليدنې ته راغلل. نور ټول آنتس ته ور روان وو او د هغه پوښتنه به يې کوله. د روسيې حکومت خو يې پر مرګ لا خوشاله و، ځکه په دې سره يې يو ستر خنډ له لارې لرې کېده. له همدې امله يې ويل، چې د هغه ايمان سم نه و. خو پوشکين انسانيت او انساني حقوقو ته ژمن کس و.
د روسيې حکومت د هغه جسد سلطنتي کليسا ته راوړ، ځکه ډارېدل چې ښايي په جنازه کې به يې سلګونه کسان ګډون وکړي او د لاريونونو سبب به شي. په نيمه شپه کې يې په پټه د هغه جنازه له سلطنتي درباره اوچته کړه او ميخايلو سکويه ته نږدې يې د هغه د مور مقبرې ته ورسوله. پوشکين د ۱۸۳۷ کال د فبرورۍ په شپږمه سهار وختي د خپلې مور څنګ ته خښ کړل شو. تر هغه وروسته راغلي ليکوالان او شاعران دا ورځ د روسي ادب تر ټولو تياره او بده ورځ بولي.
د روسي ادبياتو ټول سرلاري او ستر ليکوالان پوشکين ته د قدر په سترګه ګوري او درناوی ورته لري. پوشکين د بشري فرهنګ او هنر تر ټولو ستر استازی دی او په ټولو بشري او هنري مسايلو کې يې افکار د کارونې او لوستنې وړ دي. په روسيه کې يې تر مرګ وروسته قدر نور هم ډېر شو، مجسمې يې جوړې شوې، په نامه يې علمي مرکزونه جوړ شول او تر نن پورې په درنه سترګه ورته کتل کېږي.

همیانی

# نرسان په کوم هېواد کې ډېر عواید لري؟

حميدالله حميدي

د ټولو په سر کې باید ووایو، چې له ډاکټرې وروسته نرسنګ تر ټولو مهمه دنده ده. یو نرس نه یوازې دا چې له ناروغ سره پوره مرسته کوي، بلکې تر ډاکټر ډېر پام پرې کوي. په نوره نړۍ کې تر ډاکټر د خلکو په خوله د نرس نوم ډېر وي. هلته ډاکټر یوازې تشخیص کوي، له تشخیص او درمل وروسته بیا نور کار د نرس په غاړه وي، چې څه ډول د خپل ناروغ درملنه وکړي، پر وخت درمل ورکړي او د ناروغ نورو اړتیاوو ته رسیده‌ګي وکړي. په ځینو هېوادونو کې نرسان ډېر ښه عواید لري، خو په ځینو کې بیا یوازې دومره پیدا کوي، چې خپل ورځنۍ ژوند پرې مخ ته وړي. په دې لیکنه کې درته هغه هېوادونه معرفي کوو، چې نرسان په کې ښې پیسې پیدا کولی شي.

**۱-بلجيم**

بلجيم د اروپا په لوېدیځ کې پروت کوچنی هېواد دی، چې د خپلې پلازمېنې له کبله چې د اروپايي اتحادیې غیر رسمي پلازمېنه هم بلل کېږي، خورا مشهور دی. په بلجیم کې درملنه یو څه ګرانه ده. نرسان یې ډېر ښه عواید لري، چې په کلني ډول له ۲۷ زرو تر ۵۰ زرو ډالرو پورې پیدا کوي.

**۲-نیوزیلنډ**

نیوزیلنډ چې په ارام سمندر کې واقع دی، له دوو جزیرو جوړ شوی او د استرالیا هېواد ګاونډی دی. په دغه هېواد کې د ژوند سطحه خورا لوړه ده، نو هغه کارونه چې په ډاکټرانو پورې اړوندېږي، ښې ډېرې پیسې غواړي. په اوسط ډول ډاکټران په دغه هېواد کې تر ۳۵ زرو ډالرو پورې پیدا کوي. د نرسانو کلنی عاید هم له ۲۳ زرو نیولې تر ۴۷ زرو پورې رسېږي، خو دغه څه بیا د نرس تر رتبې او کار پورې هم اړه لري.

**۳-انګلستان**

په انګلستان کې هم د نرسانو ژوند ورځ تر بلې ښه کېږي. نرسانو ته د کار په پیل کې ۳۰۰۰ ډالر ورکول کېږي، خو د وخت په تېرېدو سره په کلني ډول تر ۴۳ زرو ډالرو پورې پیدا کولی شي.

**۴- ډنمارک**

که د یخنۍ توان لرئ او په ډنمارک په پوهنتونونوکې د زده کړو لېوال وی، نو ترې ښه ځای نشته. په ډنمارک نه یوازې دا چې نرسانو ته په ښه سترګه کتل کېږي، بلکې ښه عواید هم لري. په کلني ډول یو نرس په ډنمارک کې له ۳۸ زرو ډالرو نیولې تر ۵۰ زرو ډالرو پورې عواید لري.

**۵-استرالیا**

په استرالیاکې هر نرس په اوسط ډول په ساعت کې ۲۷ امریکایي ډالر ګټي، چې ۴۰ استرالیایي ډالره کېږي. په همدې ډول څومره یې چې تجربه لوړېږي، د عوایدو کچه یې هم ور سره لوړېږي. هغه نرسان چې لس کلنه تجربه لري، په کلني ډول ان تر ٦۰ زرو ډالرو پورې عواید تر لاسه کولی شي.

**٦- کاناډا**

کاناډا نو بیا روغتیا ته په پام کولو او پاکۍ کې مشهوره ده. خو یو څه چې تاسو به لا نه وی ترې خبر، هغه دا چې نرسان یې ډېر لوړ عواید لري. کاناډا یوازینی هېواد دی، چې نرسان یې په کلني ډول له ۴۸ زرو امریکایي ډالرو نیولې تر ۵۵ زرو امریکایي ډالرو پورې عواید لري. که یې تجربه له نورو یو څه لوړه وي، بیا یې د عوایدو کچه ان ٦۵ زرو ډالرو ته رسېږي.

**۷-امریکا**

په امریکا کې بیا په متوسط ډول د نرسانو تنخوا له ۴۹ زرو امریکایي ډالرو شروع کېږي او ان تر ۹۴ زرو ډالرو پورې رسېږي. خو که مو دنده په سانفرانسیسکو کې وي، بیا مو بیخي خواري نشته، ځکه په دغه ایالت کې تنخواګانې تر نورو لوړې دي.

**۸-لوګزامبورګ**

لوګزامبورګ د اروپا په لوېدیځ کې کوچنی هېواد دی، چې د بلژیک، المان او فرانسې په منځ کې پروت دی. دا نو په دې قاره کې لومړنی خپلواک هېواد دی. په دغه هېواد کې هم د نرسانو عواید ډېر ښه دي. د کار په لومړیو اتو کلونو کې په کلني ډول د یوه نرس عواید له ٦۰ زرو پیل کېږي او ان تر ۱۲۵۰۰۰ پورې رسېږي. څومره یې چې تجربه لوړېږي، په هماغه کچه یې عواید هم ور سره پورته ځي.

په نورو بهرنیو هېوادونو کې د متخصصې دورې ته څوک په اسانۍ نه شي رسېدلی. داسې هم شوي چې یو ډاکټر ټول عمر د یوه نرس په توګه دنده تر سره کړې وي. د یادولو وړ ده چې په نوره نړۍ کې نرس کېدل هم د هر چا د وس خبره نه ده، داسې نرسان شته، چې په خپل مسلک کې خورا رسېدلي وي.

## د بشري حقونو کمېسیون: حکومت دې په عملیاتو کې د ملکیانو ژوند ته جدي پاملرنه وکړي

د بشري حقونو خپلواک کمېسیون په پوځي عملیاتو کې د ملکیانو د مرګ ژوبلې پر زیاتېدو اندېښنه څرګنده کړې ده.

د دغه کمېسیون ویاند بلال صدیقي ازادي راډیو ته ویلي، چې حکومتي ځواکونه باید پوځي او ملکي اهداف بېل او په عملیاتو کې دقت وکړي.

نوموړي زیاته کړې: «هغوی باید ملکي خلک له پوځیانو، ملکي سیمې له پوځي محلونو تفکیک کړي. متأسفانه، دوی یو کور بمباروي چې هلته ښځې او ماشومان وژل کېږي، یو بل کار چې حکومت یې کولای شي دا دی، چې له هغو کسانو سره جدي برخورد وشي چې د ملکي تلفاتو سبب کېږي.»

بلخوا د ولسي جرګې د دفاعي چارو د کمېسیون غړي علي اکبر قاسمي هم ویلي، چې امنیتي ځواکونه دې په عملیاتو کې د ملکیانو ژوند ته جدي پاملرنه وکړي.

نوموړي زیاته کړې: «امنیتي ځواکونه باید عملیات د دقیقو معلوماتو پر اساس وکړي او داسې ونه شي چې ځینې کسان د سیمه ییزو رقابتونو او ستونزو پر اساس ناسم معلومات ورکړي او زموږ امنیتي ځواکونه عمل ورباندې وکړي».

دا په داسې حال کې ده چې ولسمشر غني ورمه ورځ په ارګ کې د امنیتي ارګانونو له مشرانو سره د ملکي مرګ ژوبلې د مخنیوي پر څرنګوالي خبرې کړې دي.

له ارګه په خپره شوې خبرپاڼه کې راغلي، چې د امنیتي ادارو مشرانو او په افغانستان کې د ناټو د غوڅ ملاتړ ماموریت په پوځي



عملیاتو کې د ملکي تلفاتو د مخنیوي طرحه، ولسمشر ته سپارلې ده.

ولسمشر غني تر دې مخکې ویلي وو، چې په پوځي عملیاتو کې د ملکي مرګ ژوبلې شمېر به صفر کړي، خو په کابل کې د ملګرو ملتونو د سیاسي استازي دفتر یا یوناما د مارچ په څوارلسمه د ابتدایي څېړنو پر اساس ویلي، چې د مارچ په اتمه او نهمه د افغان ځواکونو په دریو عملیاتو کې ۲۴ ملکي وګړي وژل شوي وو.

یوناما ویلي چې دا عملیات په ننګرهار، میدان وردګو او پکتیکا کې شوي دي.

د یوناما د خبرپاڼې په حواله، یوازې د ننګرهار په حصارک ولسوالۍ کې دیارلس ښځې او ماشومان د مارچ په اتمه وژل شوي وو.

دا په داسې حال کې ده چې په کابل کې د ملګرو ملتونو د سیاسي استازي دفتر یا یوناما د ۲۰۱۹ ز کال په فبرورۍ کې د ملکي مصونیت کلنی رپوټ خپور کړ.

د رپوټ له مخې، په ۲۰۱۸ ز کال کې تر ۳۸۰۰ زیات ملکي وګړي، چې په هغه کې ۹۲۷ ماشومان هم وو، وژل شوي او تر ۷۱۰۰ زیات افغانان په جګړه کې زخمیان شوي دي.

د رپوټ پر اساس، د ملکي مرګ ژوبلې مسوولیت په سلو کې ۱۴ سلنه د افغانستان امنیتي ځواکونو او په سلو کې شپږ سلنه نړیوالو ځواکونو ته ور اوړي.

دغه راز په سلو کې ۳۷ سلنه ملکي تلفات د طالبانو، په سلو کې ۲۰ سلنه د داعش د خراسان ډلې او په سلو کې شپږ سلنه د نورو غیرو مسوولو وسله والو ډلو په حملو کې پېښ شوي دي.

## د سولې عالي شورا: د کابل او واشنګټن ترمنځ وروستۍ ستونزې به د سولې پروسه زیانمنه نه کړي

د سولې عالي شورا ویلي، د کابل او واشنګټن ترمنځ ناسم پوهاوی او ستونزې به د سولې پروسه زیانمنه نه کړي.

دغه شورا وايي چې د زلمي خلیلزاد او وسله والو طالبانو ترمنځ د سولې په راتلونکې ناسته کې به، د افغان حکومت او وسله والو طالبانو ترمنځ مخامخ خبرو ته زمینه برابره شي.

د دې شورا مرستیال ویاند اسدالله زایري ازادي راډیو ته ویلي، چې د ملي امنیت شورا د سلاکار حمدالله محب او د امریکا د بهرنیو چارو وزارت ترمنځ وروستۍ څرګندونې، یوازې ناسم پوهاوی او کوچنۍ ستونزه ده چې د اندېښنې وړ مسئله نه ده.

نوموړي ټینګار کړی چې کابل او واشنګټن د سولې پروسه په پوره قوت سره مخ ته وړي او رامنځته شوي فرصتونه به له ستونزو سره مخ نه شي.



نوموړي ویلي: «دا یوازې یو سوءتفاهم او وړه ستونزه ده چې هېڅ ډول د اندېښنې وړ مسئله نه ده. که څه هم د سولې مسایل داسې لوړې- ژورې لري، خو دواړه ملګري هېوادونه به یو ځای د سولې لپاره کار وکړي او دواړه په دې هڅه کې دي چې د سولې هڅې رنګ راوړي».

دا په داسې حال کې ده چې د افغانستان د ملي امنیت شورا سلاکار حمدالله محب امریکا ته د سفر پر مهال خبریالانو سره په خبرو کې د افغان سولې لپاره د امریکا د بهرنیو چارو وزارت ځانګړی استازی زلمی خلیلزاد تورن کړی، چې غواړي د خپلو شخصي ګټو په هدف د سولې پرمختګونه پټ وساتي او افغان حکومت څنډې ته کړي، څو موقته اداره رامنځته شي.

محب دغه راز په نوموړي تور پورې کړی چې قدرت ته د رسېدو په لټه کې دی، خو د امریکا د بهرنیو چارو وزارت ویاند د ښاغلي محب دغه څرګندونې رد کړې او ویلي یې دي، چې د خبرو اترو ټول جزیات د خلیلزاد او په کابل کې د امریکا سفارت له لارې له خلکو سره شریک شوي دي.

د ملي امنیت شورا سلاکار حمدالله محب وروستۍ څرګندونې په کور دننه او بهر ځینې اندېښنې او غبرګونونه راپارولي او ځینو پخوانیو امریکایي چارواکو هم ویلي، چې د شخصي ستونزو له امله باید اړیکې زیانمنې نه شي.

له دغو څرګندونو وروسته د امریکا ولسمشر ډونالډ ټرمپ او د دغه هېواد ځینو لوړپوړو امنیتي چارواکو د امریکا په دفاع وزارت کې د تړلو دروازو تر شا خبرې هم کړې دي.

د سپینې ماڼۍ یوه جګپوړې چارواکي فکس نیوز ته د نوم نه ښودو په شرط ویلي، چې دغه ناسته پټه شوې او د افغانستان د سولې د هوکړه‌لیک په تړاو پکې خبرې شوې دي.

اقتصاد

### د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۵,٤۰ |
| € | ۸۵,۳۰ |
| Rp. | ٥٤۰ |
| ₹ | ۱۰٦۰ |
| ¥ | ۱۱ |
| £ | ۹۹ |

### پروازونه

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 07:00 |
| کابل - دوبی | 19:15 |
| کابل - ډهلي | 07:00 |

Kam Air

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 09:00 |
| کابل - کندهار | 09:00 |
| کابل - ډهلي | 10:00 |

flydubai

| | |
|---|---|
| کابل - دوبی | 08:50 |
| کابل - دوبی | 14:40 |
| کابل - دوبی | 18:15 |

### بېړنۍ شمېرې

پولیس
119 - 100
امبولانس
112
اتاترک روغتون
0202500312
ملالی زېږنتون
0202201377
وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360
رابعه بلخي روغتون
0202100439

مسیر ورځپاڼه
**مسوول مدیر:** اسدالله وحیدي
**مرستیال:** شفیق امیرزی
**اېډېټران:** جواد تیموري او امان الله حنیفي
**لیکوالان:** محمد نظیم سمون، جاوید کوټوال او شفیق همدرد
**خبریالان:** حمیدالله حمیدي، حکمت آرین او حشمت الله نوري
**ګرافیک او ډیزاین:** ارمان
**چاپخونه:** وایګل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲٦۲٦ ۰۷۸۲۹۸۹٦۹٦
maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

# Maseer

New Vision, New Journey

Daily








دوشنبه د ۱۳۹۷ د کب ۲۷مه | د ۲۰۱۹ د مارچ ۱۸مه | دویم کال | ۳۵۲مه گڼه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily


| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننگرهار |
|---|---|---|---|---|
| ۱۰ | ۱۷ | ۱۹ | ۲٤ | ۲۳ |
| ۱ | ۷ | ۹ | ۱۱ | ۱۲ |

شرعي وختونه: سهار ۰٤:۳۹ | لمر ختل ۰٦:۰۳ | ماسپښین ۱۲:۰۳ | مازیگر ۰۳:۲۷ | ماښام ۰٦:۰۲ | ماخوستن ۰۷:۲٦

## عبدالله: سیاست خارجی افغانستان بحث سلیقه‌یی، احساساتی و آماتور نیست



عبدالله عبدالله، رئیس اجرائیه در واکنش به اظهارات حمدالله محب، مشاور امنیت ملی رئیس جمهور غنی دربارۀ زلمی خلیل‌زاد، می‌گوید که باید در هر اظهار نظری منافع ملی کشور درنظر گرفته شود.

این در حالی است که حمدالله محب در سفر اخیرش به ایالات متحده، در گفت‌وگو با خبرنگاران، از زلمی خلیل‌زاد مبنی بر شریک نساختن جزیات گفت‌وگوهای دوحه با حکومت افغانستان انتقاد کرد و گفت که او در تلاش کنار زدن حکومت افغانستان است. این اظهارات آقای محب، واکنش‌هایی زیادی را به همراه شد. عبدالله عبدالله، یک روز پس از آن، این گفته‌های مشاور شورای امنیت ملی رئیس جمهور را انتقاد کرد.

اما آقای محب، پسان‌تر در تویترش نوشت که نامزدان انتخابات ریاست جمهوری باید در اظهارات شان بیشتر متوجه باشند؛ چون مردم و تاریخ آن‌ها را قضاوت خواهند کرد.

رئیس اجرائیه حکومت که نامزد انتخابات ریاست جمهوری نیز است، دیروز در یک نشست در کابل گفت که او به عنوان رئیس اجرائیه اظهاراتش را بیان کرده‌است، نه از آدرس تیم انتخاباتی‌اش. وی افزود: «بحث سیاست خارجی افغانستان، بحث منافع ملی کشور ما است؛ بحث سلیقه‌یی، بحث احساساتی و بحثی که ما یک بار همۀ دستاوردهای مردم افغانستان و قربانی‌های دیگران را در پهلوی مردم افغانستان، فراموش کنیم نیست».

عبدالله همچنان افزود: «در راستای منافع ملی کشور ما است که استحکام هرچه بیشتر مناسبات ما با جامعۀ بین‌المللی و این باید اولویت ما باشد، در اولویت ما بوده و در اولویت ما هست. به هیچ صورت بحث مناسبات خارجی کشور ما، بحث آماتور نیست، بوده نمی‌تواند. بحث شخصی هم بوده نمی‌تواند».

عبدالله عبدالله، تأکید کرد که اکنون نیاز بیشتر به اتحاد میان مردم و همکاران بین‌المللی است و مقام‌های حکومت در اظهارات شان باید بیشتر متوجه باشند.

## نړۍ





